ناروې

# زما شخصي معلومات ولې EURODAC ته لېږدول شوې دي؟

د ډول

**درېیم هېواد تابعیت لرونکي یا بېتابعیته کسان چې په یوه غیرې هېواد کې په ناقانونه توګه اوسېږي**



PASHTO

## دا بروشور زه ولې تر لاسه کوم؟

ثابته شوې وې چې تاسې په دې هېواد کې پې اجازې اوسېږئ.

په دغه بروشور کې د معلوماتو په اړه کوم چې د چارواکو له خوا به وساتل شي او دا چې د څومره وخت لپاره به وساتل شي، زيات معلومات شته.

## ولې بايد زه خپل د ګوتو نښې او انځور ورکړم؟

د دې هېواد چارواکي به ستاسو د ګوتو نښې او انځور واخلي. دا معلومات او ستاسو د پېژندنې له معلوماتو او نورو اړوندو معلوماتو سره به يو ځای، د Eurodac ډېټابيز ته واستول شي.

Eurodac د مشخصو کټګوريو لرونکي خلک د هغوی د ګوتو د نښو او انځور په بې ساري مشخصاتو سره نښلوي، کوم چې د اروپايي ټولنې+ يوه هېواد اتباع نه دي.

دا ډيټابيز د اروپايي ټولنې+ د 31 هېوادونو له خوا کارول کېږي، چې کولای شي ستاسو معلومات پروسس او ترلاسه کړي. د اروپايي ټولنې+ هېوادونه د همدې بروشور په پای کې راغلي دي.

**تاسې اوس په ناروې کې ياست، کوم چې د اروپايي ټولنې+ يو هېواد دی.**
**د اروپايي ټولنې+ هېوادونه دا دي:**

- د اروپايي ټولنې (EU27) غړي هېوادونه دا موارد دي: اطريش، بلجيم، بلغاريه، کروشيا، قبرس، چيک جمهوريت، ډنمارک، استونيا، فنلينډ، فرانسه، جرمني، يونان، هنګري، ايټاليا، لاټويا، ليتوانيا، لوکزامبورګ، مالټا، هالنډ، پولنډ، پرتګال، د ايرلينډ جمهوريت، رومانيا، سلواکيا، سلونيا، هسپانيه، سويډن او
- 4 نور هېوادونه: ايسلېنډ، ليچتنستين، ناروې، سويټزرلنډ.

## په EURODAC کې کوم معلومات زېرمه کېږي؟



لاندې معلومات له پخوا نه په کې زېرمه دي:

- ستاسې د ګوتو نښې
- ستاسې د مخ انځور
- ټول هغه نومونه چې تاسې اوس یا پخوا کارولي دي
- د زوکړې ټولې هغه نېټې چې تاسې اوس او پخوا کارولې دي
- ستاسې د زوکړې ځای
- ستاسې ملیت یا ملیتونه
- ستاسې جنسیت
- ستاسې د هویت یا د سفر د اسنادو کاپي کوم چې تاسې کارولي دي، او که چېرته موجود وي نو د هغوی د اعتبار په اړه معلومات هم په کې شامل دي
- د هغه افسر پېژندپانه کوم چې ستاسې د ګوتو نښې او انځور یې واخیست او هغه نېټې کله چې ستاسې معلومات واخیستل شول او انتقال شول
- د اروپایي ټولنې+ هېواد کې چېرې چې تاسې موندل شوي یاست هلته بې اجازې پاتې شوي یاست.

لاندې معلومات به، که اړتیا وي، په Eurodac کې ثبت شي:

- په دې اړه معلومات چې ایا تاسې په داوطلبانه توګه خپل هېواد ته د بېرته ستنیدو غوښتنه منلې که نه
- د هغو وختونو په اړه معلومات چې تاسو خپل هېواد ته بېرته تللی یاست، څه دا ستاسو خپله پرېکړه وه یا که چارواکو تاسو یې بېرته استولي وئ
- که چېرې تاسې بیا ځای پر ځای کېدو لپاره ټاکل شوي یاست، د اروپایي ټولنې+ د ځای پر ځای کېدو هېواد.

تاسو حق لرئ چې Eurodac کې ثبت شوي ناسم معلوماتو ته لاسرسی ولرئ او اصلاح یې کړئ، او غوښتنه وکړئ چې ستاسو معلومات حذف شي که دا معلومات په ناقانونه توګه اداره شوي وي. ته کولای شې د معلوماتو کنټرولر (data controller) سره اړیکه ونیسئ. د معلوماتو د کنټرولر د اړیکې جزئیات کېدای شي د **«Eurodac په اړه د څه پوهېدو ته اړتیا لرئ»** په بروشور کې ومومئ.

## زما شخصي معلومات به په Eurodac کې تر کومې مودې پورې ثبت وي؟



ستاسې معلومات به د 5 کلونو لپاره زېرمه وي او له هغه وروسته به په اتومات ډول سره پاک شي.

که چېرې تاسې د اروپايي ټولنې+ يوه هېواد کې د همدې دورې له انقضاء څخه وړاندې تابعيت تر لاسه کړئ، نو ستاسې معلومات به پاک شي. که ستاسو معلومات حذف شي، دا به په هغه هېواد کې چې تاسو تابعيت ترلاسه کړی، ستاسو موقف ته زيان ونه رسوي.

## ايا په EURODAC کې کوم نور معلومات زېرمه کېږي؟

د امنيتي ارزونې پايله ثبتېږي که چېرې چارواکي دا ومومي چې تاسو ښايي:

- وسله ولرئ
- تشدد کوونکی ياست
- په ترهګريزو جرمونو کې ښکېل پاتې شوی ياست
- داسې يو جدي جنايت مو کړی وي چې له امله يې د اروپايي ټولنې+ په بل هېواد کې به ونيول شئ.

په دا شان حالاتو کې به دا په پام کې ونيول شي چې کېدای شي ته داخلي امنيت ته ګواښ پېښ کړې. دا به په Eurodac کې له پورته نورو د پلې کېدو وړ دليل يا دلايلو سره زېرمه شي کوم چې پورته يې بيان راغلی.

که چېرې د اروپايي ټولنې+ هېوادونه نور تاسې د خپل داخلي امنيت لپاره کوم ګواښ و نه بولي، نو بيا به دا معلومات پاک شي.

تاسو حق لرئ چې Eurodac کې ثبت شوي ناسم معلوماتو ته لاسرسی ولرئ او اصلاح يې کړئ، او غوښتنه وکړې چې ستاسو معلومات حذف شي که دا معلومات په ناقانونه توګه اداره شوي وي. تاسو کولای شئ د معلوماتو کنټرولر (data controller) سره اړيکه ونيسئ. د معلوماتو د کنټرولر د اړيکې جزئيات کېدای شي د **«Eurodac په اړه د څه پوهېدو ته اړتيا لرئ»** په بروشور کې ومومئ.

دا بروشور يوازې د معلوماتي موخو لپاره دی. دا پخپله حقونه يا مکلفيتونه نه رامنځته کوي. نه د اروپايي اتحاديې د پناه غوښتنې اداره (EUAA) او نه هم کوم شخص چې د دې ادارې په استازيتوب عمل کوي، په دې يادښت کې د شاملو معلوماتو د احتمالي کارونې مسؤل نه ګڼل کېږي.

© پناه غوښتنې لپاره د اروپايي اتحاديې اداره، 2025